د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

دویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
برېښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب سایټ: http://unama.unmissions.org

## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی ښاغلی کای ایده بیانیه

د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی کای ایده د جمهوري ریاست له نوماندانو هر یو داکتر اشرف غنی احمدزي او ډاکټر عبدالله عبدالله سره په جلا جلا ډول لیدنې درلودلې چې د هغوي سره د ټولټاکنو د راتلونکي پروسې په اړه خبرې وکړي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي استازی هغوي ته د "انتخاباتو د پروسې پرمهال د چلند او روش د مهمو لارښوونو" یوه ټولګه وړاندې کړه. دغه لارښوونې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړی استازی له خوا نشر او د نړیوالې ټولنې له خوا منل شوی دي. او دا لارښوونې همدارنګه ولسمشر حامد کرزی ته هم وړاندې شوي دي.

د دې لارښوونو هدف دا دی چې د ټاکنو لپاره یوه مناسب او عادلانه کمپاین یقیني کړي چې هر څوک د خپل نقش د اداء کولو فرصت پیدا کړي. هدف دا دی چې د ټاکنو په پروسه او د حکومتي ادارو په بې پلوې کې مداخله و نه شي او د ټاکنو او د نړیوالې ټولنې استازی خپله بې طرفی وساتي. دغه راز د لارښوونو هدف دا هم دی چې خبري رسنۍ د کمپاین په باب په بې طرفه او عادلانه ډول راپورونه خپاره کړي.

ډاکټر غني او ډاکټر عبد الله دواړو د عمومي منشي د ځانګړی استازی د نوښتونو ملاتړ وکړ او له دې سره یې موافقه وکړه چې د ټاکنو په بهیر کې له خاص استازی سره له نږدې اړیکه وساتي.

کابل، د جون ۱۴ نیټه، ۲۰۰۹ کال